## مطبوعاتي اعلامیه

**د سوچي ناسته د امریکا، سوري رژیم او د کردانو دیموکراتیک ګوند سرې کرښې خوندي کوي او د ترکیې سرې کرښې له منځه وړي!**

د ۲۰۱۹م د فبروري پر ۱۴مه، د ترکیې ولسمشر اردوغان، روسي ولسمشر پوتین او د ایراني ولسمشر روحاني ترمنځ ناسته د روسیې په سوچي کې ترسره شوه. په یاده ناسته کې خبرې په سوریه کې د کردانو پر سیاسي راتلونکي او په سوریه او ادلب کې پر سیاسي بهیر ورتولې وې. په یوه ګډه اعلامیه کې په سوریه کې د امریکا د سرو کرښو د خوندیتابه په تړاو خبرې بیان شوې. پر دې سربېره هغه پرېکړه چې «د اسد په شتون د بهیر پر پرمختګ» ټینګار کوي لکه څرنګه چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا ۲۲۵۴ پرېکړې تایید کړې وه.

امریکا، روسیه او ایران د سوریې په راتلونکي کې د کردانو د دیموکراتیک ګوند د ونډې ملاتړ کوي. په داسې حال کې چې په همدغې اعلامیه کې د ترکیې د خوندي سیمو غوښتنې ته کوم شین څراغ نه دی ورکړل شوی او له تروریزم څخه د ادلب پر پاکېدو ټینګار شوی دی. له اردوغان څخه غوښتل شوي چې له زغم څخه کار واخلي، ځکه امریکا په ادلیب کې د عملیاتو له پیلېدو سره د سیاسي حل له رسېدو وړاندې مخالفه ده. سربېره پر دې ترکیې د شام د آزادۍ غورځنګ(هیت التحریر شام) پر ضد په حمیمیم کې د روسیې د هوایي اډې د خوندیتابه رول په غاړه واخیست.

له هغه څخه څو میاشتې تېرې شوې چې اردوغان د فرات په ختیځ کې د عملیاتو د پیلولو اجازه ورکړه، خو په دې لاره کې یې ونشو کولی چې یو کوچنی ګام هم واخلي. د امریکا د هوایي خوندیتابه او د روسیې او ایران د ځمکني بریدونونو تر چتر لاندې د فرات سپر او زیتون څانګې عملیات د دې لپاره ترسره شوه چې د امریکا ګټې خوندي کړي، د وسله والو ډلو ترمنځ انشعاب رامنځته کړي او د سوریې سپېڅلی انقلاب وځپي. کله چې دی منبیج ته ورسېد هلته ودرېد. ده د سرتېرو لېږل ودرول! ترکیې په خواشینۍ سره د امریکا غوښتونو ته غاړه کېښوده او د امریکا سرو کرښو ته پرته له دې چې خپلې سرې کرښې په پام کې ونیسي، ژمنه پاتې شوه. په ۲۰۱۱م کې اردوغان د اسد په تړاو خبرې کولې او د اصلاحاتو ژمنه یې وکړه. «د سورِیې خلک پر اسد باور نه لري او زه هم پر هغه باور نه لرم.» د 2017 د ډیسمبر پر ۲۷ مه ده د سوري دولت په تړاو وویل: «تروریستي دولت د تروریزم ملاتړ کوي.»

د ۲۰۱۹م د جنوري پر ۲۴مه، د روسیې له لوري له یادونې وروسته، دی له اسد سره ناستو جوړولو ته چمتو شو او ویې ویل: «پر عدنا هوکړه باندې باید خبرې وشي.» د سوچي په دې وروستۍ ناسته کې څرګنده شوه چې دی له هغې تګلارې پرته چې امریکا د سوریې د ۹۰۰ کیلو متره پولې لپاره جوړه کړې ده، بله تګلاره نه لري. ده وویل: «موږ د عدنا هوکړې تر چتر لاندې د خپل راتلونکي لپاره پلان لرو.»

اردوغان هغه څوک دی، چې یو وخت یې سوري رژیم ظالم او مجرم باله، اوس له سوریې سره د اړیکو پاللو په موخه د دې هیواد د بنسټونو پر رغولو بوخت دی. ده پرون اسد تروریست باله البته «د خپل مشرتابه د لېږد په پړاو کې.» او د سوریې د خلکو په تړاو، ده پرون ویل چې له دوی سره به څنګ په څنګ درېږي؛ خو نن یې دوی پرېښودل او له ظالمانو سره ودرېد. ده د سوري کډوالو په تړاو ویل: «دوی د ملاتړو او کډوالو یوه نمونه ده» نن

ورځ دی د هغوی د بیرته ستنېدو غوښتنه کوي. ده د عملیاتو په تړاو خبرې کولې، خو نن له امریکا، روسیې او سوري رژیم څخه د عملیاتو پیلولو اجازه غواړي. د پرون او نن په دریځ کې ولې توپیر لیدل کېږي؟!

کافر ښکېلاکي ځواکونه او د دوی ځایي متحدین په دې موخه سره یوځای شول، چې د سوریې اته کلن پیاوړی انقلاب له منځه یوسي، د خلکو مقاومت کم رنګه کړي، د دېلو مشران تېرباسي څو د خبرو میز ته راشي، مجرم رژیم ته بیرته ساه ورکړي او د سوریې ټوله خاوره د رژیم په ولکه کې ورکړي. سیاسي او استخباراتي شبکې سره یو موټی شوي چې سوري رژیم وژغوري- هغه چې کابو د مرګ کندې ته نږدې و او د ژوندي پاتې کېدلو لپاره یې لاس او پښې وهلې. هغه د ویجاړو شویو ښارونو، وژل شویو میلیونو خلکو، بې ځایه شویو او زیانمنو شویو خلکو هیڅ پروا نلري! په حقیقیت کې هغه د امریکا، روسیې او نورو ټولو ظالمانو د خوښې لپاره کار کوي، خو همدغه ظالمان به د الله سبحانه وتعالی له قهر او د اسلامي امت له ښېرا څخه هیڅوک ونه شي ژغورلی.

**(وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلاً عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ)**

[ابراهیم: ۴۲]

ژباړه: *او ته په الله باندې له سره (هېڅ) ګمان مه کوه چې هغه د ظالمانو له کارونو غافله دی، له شک پرته هغه، دوی هغې ورځې ته ځنډوي چې په کې به سترګې تېغې او رډې پاتې شي.*

**د حزب التحریر- ولایه ترکیې مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۰۷/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادی الثاني ۱۰مه**

**۲۰۱۹م، د فبرورۍ ۱۵مه**